Britannia
Fostering Agency

# د ماشومانو د پالني لارښود

## له ۱۲ کلنۍ څخه تر ۱۸ کلنۍ پوري



ښاغلی /آغلي

دغه کتاب تاسو ته د ماشومانو د پالني اړوند اړین معلومات وړاندي کوي.



# فهرست:

پالنه څه شی ده؟

ستاسو ټولنیز کارکوونکی

زه ولي باید راتلونکي کي د یو پالونکي په حیث ژوند وکړم؟

ستاسي پلان

د بیا کتني لپاره ستاسو خپلواک افسر؟

څوک دی؟

بریټانیا

ستاسو د پالني مسلک

ستاسي حقوق

زما ملاتړي به څوک وي، چي زه لوییږم او ضرورت لرم چي پر مخ لاړ سم؟

د خوندیتوب احساس/د جیب خرچه/موبایل

آزارول

شکایت کول

آیا تاسو له خپل ټولنیز کارکوونکو څخه د شکایتونو یو کوچنی کتاب لرئ؟

بیرني حالتونه



## پالنه څه شی ده؟

پالنه کول یو ځانګړی خدمت دی چي د ماشومانو او ځوانانو د پاملرني لپاره مينځته راغلی دی، کوم چي نشي کولای د خپل مور او پلار سره ژوند مخ ته یوسي.

پالنه ۳ مهم ډولونه لري:

## بیړنی/مهمه پالنه:

دا یو لنډ مهاله پالنه ده چي ممکن دوي یا دري هفتي دوام ولري، دا پالنه عموما د هغو ماشومانو لپاره ده چي غواړي د کور څخه بهر یو څه وخت واوسي، د ټولنیزو خدمتونو اداره به دوئ ته یوه کورنی ورپیدا کړي تر څو دوئ ورسره واوسي.

## اوږد مهاله/همیشنی پالنه:

دا هغه ډول پالنه ده چي یو ماشوم یا ځوان د ډیر وخت لپاره و یو پالونکي کورنی ته ورکول کیږي. دا پالنه څو کلونه دوام کوي، شاید تر څو چي ماشوم لوییږي دوام وکړي.

## لنډ مهاله پالنه:

دا هغه ډول پالنه ده چي، ماشوم او یا ځوان ته پکښي پاملرنه کیږي. لنډ مهاله پالنه ممکن څو هفتې وخت ونیسي او یا اوږده سي.

## ستاسو د ټولنیزو خدماتو کارکوونکی:

ستاسو د ټولنیزو خدمتونو کارمند د هغه سیمه ایزي اداره لپاره کار کوي چي تاسو پکښي اوسیږئ. هغه مسئولیت لري ترڅو ځان باوري کړي چي ستاسو پالنه په ښه ډول سره سرته رسیږي. ستاسو د ټولنیزو خدمتونو کارمند به ستاسو د پالني کور ته راځي او د باور به ترلاسه کویچي تاسو خوشحال یاست. تاسو باید له هغه سره شه په خوشحالی خبري وکړي او ټول هغه مشکلات چي تاسو ورسره مخ یاست له ده سره شریک کړئ تر څو درسره کومک وکړي.





## ستاسي د پالني تګلاره:

کله چي تاسو لاو شئ او د پالونکو سره ژوند شروع کړئ، ستاسي د ټولنيزو خدمتونو کارمند به تاسو ته ووايي چي تاسي ولي دلته ژوند کوئ او تر څه وخت پوري به دلته ياست. دا به ستاسو د پالني په پروګرام کي ښه په تفصيل سره وليکل شي. ستاسي د پالني پلان به د بيا کتني په نوم جلسه کي يو ځل بيا د ډاد ترلاسه کولو لپاره د بيا کتني د يو خپلواک افسر **(IRO)** لخوا وکتل شي. ستاسو د بيا کتني خپلواک افسر به حتما ستاسو غوښتني وپوښتي، او ستاسي سره به خبري وکړي چي څنګه کولای شئ خپل نظر ورکړئ.



دا تګلاره ستاسو د راتلونکي لپاره ده او ټول لاندي مهم شيان تر نظر لاندي نيسي، لکه:

- ته به څومره وخت لپاره وپالل شې؟
- د کورنۍ او ملګرو سره تماس نيول
- ستاسي تعليم
- ستاسي روغتيا
- تفريحي فعاليتونه
- تفريحي فعاليتونه

دا چي له پلان سره سم ستاسو پالنه شروع شي، دا هر څه د ټولنيزو خدماتو د کارمند او د هغوئ د منيجر لخوا ليکل شوي دي. تر هغه وروسته که چيري د بيا کتني په جلسه کي يې د تغير او تبديل ضرورت وي نو تغير او تبديل کيږي.

## زه ولي بايد له يو پالونکي سره واوسيږم؟

ماشومان د مختلفو دلائلو پر اساس له پالونکو سره اوسيږي، خو په دې خاطر نه چي تاسو کوم غلط کار ترسره کړی وي. کله چي ماشومان نشي کولای له خپلي کورنۍ سره واوسيږي، هغوئ بيا کولای شي د يوې پالونکي کورنۍ سره د يو څه مودې لپاره و اوسيږي. له يو نوي او مختليفي کورنۍ سره ژوند کول به اسان نه وي، ليکن ستاسو د ټولنيزو خدمتونو کارمند او پالونکي به تاسو ته د محفوظ، خيال ساته، او خوشحاله کور احساس درکړي.









ستاسو د بیاکتني خپلواک افسر

د یو بیا کتني خپلواک افسر (IRO هم ورته ویل کیږي)، اصلي دنده دا ده چې، ځان په دې ډاډه کړي چې د پالني ټولي تکلاري چې ستا لپاره جوړ شوي دي، په کوم ځای کي چې تاسي اوسیږئ، ستاسي ضروریتونو ته ځواب وایي.

- دوئ به ستاسو په بیا کتنه کي ستاسو نظر ته په اجازه ورکولو سره ستاسو د بیا کتني مشري وکړي.
- د خلګو د تعقیب له لاري ځانونه ډاډه کول ترڅو دوئ چې د څه لپاره رضایت ښودلی، همهغسي کوي.
- ستاسو په بیا کتنه کي، دا ډیره مهمه ده چې، ستاسي د بیا کتني خپلواک افسر په دې پوه وي چې تاسو څنګه احساس کوئ او څه غواړئ.

ستاسو د بیاکتني خپلواک افسر بله دندهخ دا ده چې سیمه ایزه اداره (د کوم لپاره چې ستاسي د بیا کتني خپلواک افسر کار کوي)، په دې پوهیږي چې هر څه سم دي او یا کوم څه سته چې دوئ ورسره مرسته کولای شي.



ستاسو د بیا کتني خپلواک افسر په اړه لس مهم شیان چې تاسو باید وربانديی پوه شئ:

1. که چیري تاسو تر پالني یا مراقبت لاندي یاست، سیمه ییزه اداره باید ستاسو لپاره یو خپلواک د بیا کتني افسر وټاکي.
2. د بیا کتني خپلواک افسر ستاسو د بیا کتني د قضیې مشري کوي.
3. که چیري تاسو ورونه او/یا خویندي هم له تاسو سره یو ځای پالل کیږي، د هغوئ د بیا کتني افسر به همدا ستاسو د بیا کتني خپلواک افسر وي.
4. ستاسو د پالني په مکمله دوره کي به تاسو یواځي یو د بیا کتني خپلواک افسر ولرئ.
5. که چیري تاسو د یو ماشوم پار یاست او تاسو هم همدلته پالل کیږئ، تاسو او ماشوم به مو دواړه یو د بیا کتني افسر ولرئ، خو په ځینو حالاتو کي کیدای شي مختلف افسران ولرئ.

 

6. تاسو ته باید ستاسو د بیا کتني خپلواک افسر د نقش اړوند په لیکلي بڼه معلومات درکول شي، او باید درته وویل شي چي کوم شیان چي ستاسو د بیاکتني پر وخت ور باندي سلا شوي وه عملي نه شي، تاسو څه کولای شئ.
7. که چیري ستاسو د بیا کتني خپلواک افسر وظیفه پریږدي (شاید د یو نوي وظیفي او یا تقاعد په خاطر)، هغه باید تاسو نوي د بیا کتني خپلواک افسر ته معرفي کړي.
8. ستاسو د پالني د اولي هفتي څخه بغیر، تاسو باید بې له بیا کتني خپلواک افسر پاتي نه شی.
9. ستاسو د بیا کتني خپلواک افسر باید ستاسو له اولي بیا کتني څخه مخکي ستاسو سره له نږدې وګوري.

د یو بیا کتني خپلواک افسر سره څنګه تماس نیولای شو؟
ستاسو د ټولنیزو خدمتونو کارمند او یا د نماینده ګی ټولنیز کارمند کولای شي تاسو ته دغه معلومات په لاس درکړي. تاسو کولای شئ د خپل بیا کتني خپلواک افسر د تماس معلومات د هغه سره د لمړی لیدني پر وخت ترلاسه کړئ.
آیا تاسو پوهیږئ چي، ستاسو د بیا کتني خپلواک افسر څوک دی؟ نوم یې ولیکئ:

---

څوک، څوک دی؟
ډیر کارمندان شتون لري کوم چي مسئولیت لري تر څو ستاسو ځان ډاده کړي چي تاسو ښه یاست، او دوئ د محافظت د ټیم غړي دي. په دې معنی چي دوئ به په ګډه کار وکړي او ستاسو نظریاتو ته به غوږ کښېږدي، تر څو ستاسو سره باید څنګه سلوک وشي که چیري تاسو له ځینو اندیښنو سره مخ کېږئ.



ستاسو ټولنیز کارمند

هر تر پالني لاندي ماشوم خپل ټولنیز کارمند لري.

**ستاسو د ټولنیز کارمند نوم:**

---

ستاسو  د ټولنيز کارمند د موبايل شميره:

---

ستاسو د پالني ټولنيز افسر
هر تر پالني لاندي ماشوم خپل ټولنيز کارمند لري، ستاسو د پالني ټولنيز کارمند نوم:

---

ستاسو د پالني د ټولنيز کارمند د موبايل شميره:

---

آيا داسي کوم بل څوک سته چي تاسي غواړئ په اړه يې لاندي معلومات وليکئ:

نوم: ---

د موبايل شمیره:

---

د بريتانيا د پالني نماينده ګي:
د بل چا تر پالني لاندي ژوند به ډير سخت او احساساتي وي.  د هر شخص حالات مختلف وي. ځيني ځوانان شايد خوشحاله وي تر څو پالنه يې وشي، ليکن ځيني شايد بې‌ريدلي او غوسه وي. دا عادي خبره ده چي هر څوک دي مختلف احساسات ولري. دا لاربنود ستاسو سره مرسته کوي تر څو د پالني اړوند پوه شئ، او په دې وپوهېږئ چي، هغه والدين چي ستاسو پالنه کوي، ستاسو خيال څه ډول ساتي. دا لاربنود به تاسو ته د بريتانيا د پالني نماينده ګئ او نور بالغ کسان چي تاسو کولای شئ هر راز معلومات ورسره شريک کړئ، معلومات ترلاسه کړئ، حتی کله چي کوم څه تاسو خواشيني کوي. که چيري تاسو غواړئ په دې لاربنود کي په کوم څه باندي وپوهېږئ، ستاسو پالونکی به ستاسو سره مرسته وکړي.

ستاسو پالونکي خپل ټولنيز کارمندان لري. دغه خلګ د يو کمپنۍ چي بريتانيا د پالني نماينده ګي نوميږي، کار کوي. ددوئ وظيفه داده ترڅو ځانونه ډاډه کړي چي ستاسو پالونکي ستاسو صحي مراقبت کوي او ټول هغه څه لري چي دوئ ورته ضرورت لري. دا کسان به ستاسو سره هم وغږيږي، تر څو ځانونه ډاډه کړي چي تاسو خوشحاله ياست او په ښه ډول سره مو پالنه کيږي.



ستاسو د پالني د ټولنيز کارکوونکي نوم: ------------------------------------

ددوئ د موبايل شمېره: ------------------------------------------------------------

ددوئ بريښناليک: ----------------------------------------------------------------

زموږ پته:

----------------------------------------------------------------------------------

----------------------------------------------------------------------------------

----------------------------------------------------------------------------------



## ستاسو پالونکي

پالونکي هغه کسان دي چي د ماشومانو د پالني لپاره منل شوي وي او کولای شي د هغوئ مراقبت وکړي.

موږ پوهيږو چي دا به ډيره مشکله وي چي په يو نوي کور ته ځئ، او په لمړي ځل د خپلو پالونکو سره ګورئ. ستاسو پالونکي به تاسو ته ښه راغلاست ووايي او تاسو به ځانونه محفوظ احساس کړئ.

موږ به ستاسي څخه ډير سوالونه وکړو، لکه:

زه به خپل پالونکي په څه نامه يادوم؟
تاسو بايد د هغوئ څخه پوښتنه وکړئ، هغوئ شايد ددې توقع ونه لري چي تاسو ورته په مور يا پلار ږغ ور وکړئ.
که چيري تاسو په دې اړوند سره وغږيږئ، نو تاسو ته به معلومه سي چي، هر يو په کوم نوم خوشحال دی.

زما د خوب اطاق:

تاسو به خپل د بیدیدو اطاق ولرئ او یا هم شاید تاسو له خپل یا خور سره یو اطاق کي واوسئ. ستاسو د خوب خونه ستاسو ځای دی، او باید کوښښ وکړئ چي پاک یې وساتئ. ستاسو د خوب اطاق ستاسو شخصي ځای دی او تاسو کولای شئ خپل اړین د ضرورت توکي هلته وساتئ.

ستاسي حقوق:

ټول بتالغ کسان باید تاسو ته غوږ کښیږدي او ستاسو سره مناسب چلند وکړي، حتی که چیري تاسو داسي یو کار کوئ چي دوئ ورباندي خوښ نه وي.

که چیري تاسو کوم څه لټوئ او یا هم یو مشورې ته اوتیا ولرئ، نو ستاسو پالونکي به درسره کومک وکړي. تاسو همدا شان کولای شئ له خپل ټولنیز کارمند او یا د بریتانیا له ټولنیز کارمند سره خبري وکړئ. تاسو باید خپل پالونکي ته د ځان په اړه ووایاست، ستاسو د خوښي غذا څه ده او ستاسو کوم کارونه کول خوښیږي.

تاسو حق لرئ چي په هر حالت کي باید محفوظ وساتل شئ.

تاسو باید منظم او متوازن پرهیز درکړل شي او تمرین وکړئ.

کله چي تاسو ۱۸ کلن شئ، تاسو ته به ستاسو د فایل د لوستلو حق درکړل ي.

هر ماشوم د تعلیم حق لري.

تاسو ته به د جیب خرچه درکول سي، او ستاسو د پالني په جریان کي به ستاسو پیسي ستاسو په بانکي اکاونټ کي جمع کیږي.

تاسو حق لرئ چي وپوښتئ، چي تاسو ولي تر پالني لاندي یاست.



ځوک به ما حمایه کړي، کله چي زه لوییږم او مخ ته ځم؟

کله چي تاسو ښوونځی پریږدئ او نور تاسو یو بلوغ ژوند ته اماده یاست، ستاسو پالونکي به ځان په دې ډاډه کړي چي تاسو ټو هغه مهارتونه ترلاسه کړي دي، د کوم په مرسته چي تاسو کولای شئ مخ ته لاړ شئ. دوئ به ستاسو سره په پخلي، مینځلو، د پیسو تنظیم، او ټول هغو مواردو کي مرسته وکړي چي تاسو ورته اړتیا لرئ. موږ به ستاسو، ستاسو له ټولنیز کارمند، او ټولو هغو کسانو سره ګډ کار وکړو چي راضي دي، ترڅو ستاسو د آزادئ پلان په صحي ډول تطبیق شي.

ستاسو د تګلاري پلان ستاسو د د راتلونکي پلانونو او تنفساتو په باره کي بحث کوي.

موږ به دا کار هغه وخت کوو چي کله موږ په دې ډاډه شو چي اوس نو صحي وخت دي او تاسو اماده یاست. کله چي تاسو مخ ته ځئ، موږ په دې هیله یو چي تاسو به له خپلو پالونکو سره په تماس کي اوسئ، او دوئ به هم خوشحال وي چي ستاسو سره په تماس کي اوسي.

د خوندیتوب احساس:

ستاسو پالونکي باسد ځانونه ډاډه کړي چي تاسو د خوندیتوب احساس کوئ ځکه چي دوئ به د کور داخل کي ځیني قوانین وضع کوي چي تاسو کوم کارونه کولای شئ او کوم نشئ کولای. دې ته د پالني خوندي تګلاره وایي، چي ستاسو پالونکي به یې ستاسو سره شریکه کړي. ځیني وختونه کیدای شي چي تاسو قوانین له یاده وباسئ، خو ستاسو پالونکي به یې تاسو ته در پیادوي. ستاسو پالونکي به هیڅکله تاسو و نه رټي او نه به مو هم ووهي، تاسو ته به په نورو نومونو ونه وایي، او تاسو به د خپلي کورنۍ له لیدلو څخه منع نه کړي. هیله ده دوئ بله تاسو ښه په عزت سره وپالي.



د جیب خرڅ:

کله چي تاسو له خپل پالونکو سره اوسیږي نو تاسو به هره هفته یوه اندازه جیب خرڅ ترلاسه کړئ. دا چي تاسو ته به څومره جیب خرڅ درکول کیږي، دا ستاسو په عمر پوري اړه لري.

د موبایل استعمال:

موږ غواړو چي تاسي له خپلي کورنۍ او ملګرو سره نږدې اړیکي ولرئ، مګر مهمه داده چي دا هرڅه باید په یو محفوظ ډول ترسره شي. ستاسو پالونکي او ستاسو د ټولنیزو خدمتونو کارمند به په دې اړه ستاسو سره وغږیږي. پیاد ولرئ چي موږ هر کله غواړو تاسو خوندي واوسئ، او په نوي کور کي د ویري احساس ونه کړئ، که چیري تاسو د خوندیتوب احساس نه کوئ، نو هیله ده د یو چا څخه مرسته وغواړئ.

شکایت کول:

څه باید وکړئ که چیري تاسو کړم شکایت ولرئ. که چیري تاسو خوښ نه یاست څنګه چي تاسو پالل کیږئ، او یا هم تاسو هغه څه ته لاسرسی نه لرئ چي تاسو ورته اړتیا لرئ، تاسو حق لرئ چي شکایت وکړئ. اسو کولای شئ له خپل پالونکي او یا د ټولنیزو خدمتونو کارمند څخه د مشکل د حل غوښتنه وکړئ، او یا هم تاسو کولائ شئ چي د پالني د ټولنیز کارمند، څوک چي ستاسو د پالونکي سره ګوري، د مشکل د حل غوښتنه وکړئ.

تاسو همدا شان کولای شئ، د یو اداري سره په تماس کي شئ چي د (**OFSTED**) اداره ورته وایي، که چیري تاسو په انګلیستان کي اوسیږئ.
ددوئ د تماس اړوند معلومات دادي:
د تعلیم د اساساتو، دد کوچنیانو د خدماتو او مهارتونو دفتر، پیکاډیلي دروازه، د مغازې کوڅه، منچیسټر.

**0300 123 1231**

**enquiries@ofsted.gov.uk** **www.ofsted.gov.uk**

**0300 123 4666**

(د هر راز اندیښنو لپاره زموږ سره په تماس کي شئ)

**CIE@ofsted.gov.uk**



نوري اداري هم شته چي تاسو کولای شئ ورسره تماس ونیسئ، د مثال په ډول:

په انګلیند کي د ماشومانو د پالیسی رئیس
سنکټوري اپارتمان
د ګریټ سمیت ۲۰مه کوڅه/سړک
لندن

**020 7783 8330**

**info.request@childrenscommissioner.gov.uk**

**www.childrenscommissioner.gov.uk Bullying UK**

**www.bullying.co.uk**

د مشورې پر وخت، او یا که له آزار او اذیت سره مخ کیږئ، لاندي شماره وکاروئ:

**0808 800 2222**

جوړ شئ:

د ماشومانو او ځوانانو لپاره د خیرات زمینه کوم چي تر پالني لاندي دي:

**15-18 White Lion Street**

**London N1 9PG 0800 023**

**2033**

**advice@becomecharity.org.uk**

**NSPCC**

د بریتانیا د ماشومانو خیریه ټولنه

**Weston House, 42 Curtain Road**

**London- EC2A 3NH 0808 800 500**

**help@nspcc.org.uk**

د کوچنیانو خدمتونه د ان.اس.پي.سي لخوا برابر شوي دي.



اصطراري حالات:

که چیري تاسو په یو اضطراري حلت کي یاست، نوپر لاندي شماره اړیکه ونیسئ:؛

**999**

فورا به – تاسو د یو تخنیکي مسئول سره خبري وکړئ، هغه به ستاسو مشکل واوري او تاسو ته به ووایي چي څه باید وکړئ.

که چیري تاسو د شپې له طرفه د خپل پالونکي په کور کي له کوم مشکل سره مخ یاست، د هفتي په رخصتیو کي، او یا نورو رخصتیو کي، او ونه شئ کولای له خپل ټولنیز کارمند سره تماس ونیسئ، نو کولای شئ د اضطراري حالاتو ګروپ ته پر ------------------------ شماره زنګ ووهئ، او دوئ به کوښښ وکړي ترڅو ستاسو سره مرسته وکړي.

پیاد ولرئ چي دغه کوچنی کتاب یو خوندي ځای کښېږدئ، ترڅو وکولای شئ د اړتیا پر وخت یې ولولئ!